مؤسس: عبدالرووف بېنوا
تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز
ورځپاڼه
هیواد
سه شنبه | ۱٤٤۸/۰۱/۱٤ هـ ق | ۱۴۰۵/۰۴/۹ هـ ش | 2026/06/30 م | خصوصي ګڼه: ۷۳ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰٤۵ مه | دوره: اتمه

د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې د پاکستان سفارت شارژدافیر احضار کړ

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې د پاکستان سفارت شارژدافیر احضار کړی او د افغانستان د هوايي حریم د نقض او د کنړ، پکتیا او پکتیکا ولایتونو پر ملکي سیمو د ترسره شویو هوايي بریدونو په تړاو یې خپل شدید او قاطع اعتراض ورته وړاندې کړی دی.د بهرنیو چارو وزارت په یو اعلامیه کې ویلي، چې د پاکستان پوځي رژیم د یادو ولایتونو په ځینو سیمو کې د ملکي وګړو پر استوګنیزو کورونو هوايي بریدونه کړي، چې له امله یې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۳۶ ولسي وګړي شهیدان او ۱۶۳ نور ټپیان شوي دي.وزارت دغه بریدونه د نړیوالو اصولو، بشري قوانینو او د هېوادونو د ملي حاکمیت ښکاره نقض بللی او په کلکو ټکو یې غندلي دي.

د خبرپاڼې له مخې، دا لومړی ځل نه دی چې د پاکستان پوځي رژیم د خپل هېواد په بېلابېلو ښارونو او سیمو کې د امنیتي پېښو، چاودنو او بریدونو پړه، له معتبرو اسنادو او شواهدو پرته، پر افغانستان اچوي.

بهرنیو چارو وزارت وايي، پاکستان له تېرو څو کلونو راهیسې د خپلو امنیتي او سیاسي ناکامیو د پټولو لپاره پر افغانستان بې بنسټه تورونه لګولي او په ځلونو یې د زور او پوځي تېري له لارې د ستونزو د حل ناکامه تګلاره خپله کړې ده. دغه راز وزارت ټینګار کړی، چې دا ډول اقدامات نه یوازې د دواړو هېوادونو ترمنځ د شته ستونزو د حل لاره نه ده، بلکې د متقابل باور فضا، د ښه ګاونډیتوب اړیکې او د سیمې امنیت او ثبات ته هم جدي زیان رسوي

ملا حمدالله فطرت:

د پاکستان پوځي رژیم په بمباریو کې ۳۶ ولسي وګړي شهیدان او ۱۶۳ نور ټپیان شوي

د اسلامي امارت مرستیال ویاند ملا حمدالله فطرت خبر ورکړی، چې پر پکتیا، پکتیکا او کنړ ولایتونو د پاکستان متجاوز پوځي رژیم په بمباریو کې د وروستیو شمېرو له مخې ۱۹۹ تنه شهیدان او ټپیان شوي دي.نوموړي په خپله اکس پاڼه لیکلي، چې د پکتیا ولایت ځمکنیو ولسوالۍ اړوند مندوخېلو کلي کې پر یو ملکي کور پاکستاني جېټ الوتکو د بمبار په پایله کې د کور یو سپین ږیری او یو ماشوم شهیدان شوي او نور غړي یې ټپیان شوي وو؛ خو د کلي خلک چې د ژغورنې لپاره راټول شوي دوهم ځل پرې بمبار شوی چې ۲۸ تنه کلیوال پکې شهیدان شوي او ۱۵۸ تنه نور ټپیان شوي.د ښاغلي فطرت په خبره د پکتیکا ګیان ولسوالۍ اړوند ولوسته کلي کې د یو کلیوال کور بمبار شوی، چې ۶ تنه چې ډېری یې ښځې او ماشومان وو، پکې شهیدان شوي.

همدارنګه د کنړ منورې ولسوالۍ اړوند د برولو کلي کې د یو ملکي کس کور بمبار شوی، چې ځاني تلفات نلري؛ خو کور یې بشپړ ویجاړ شوی او مالي زیان ور اوښتی.سرچینې زیاته کړې، چې د تېرې شپې په بریدونو کې تر دې مهاله ټول ۳۶ تنه عام ولسي وګړي، چې ماشومان او ښځې هم پکې دي شهیدان؛ ۱۶۳ تنه ټپیان شوي او درې کورونه پکې . . .

۳ مخ

کورنیو چارو وزارت:

ملګري ملتونه دې د نشه‌یي توکو پر وړاندې د افغانستان لاسته‌راوړنې په واقعبینانه توګه منعکسې کړي

د کورنیو چارو وزارت له نشه‌یي توکو سره د مبارزې معین د ملګرو ملتونو له استازي سره لیدنه کې ویلي، چې دغه سازمان دې په راتلونکي نړیوال راپور کې په افغانستان کې له نشه‌یي توکو سره د مبارزې برخه کې لاسته‌راوړنې په عادلانه او واقعبینانه توګه منعکسې کړي او د بدیل معیشت برخه کې یې پر عملي همکارۍ . . .

۳ مخ

سرلیکنه

د پاکستان بمبارۍ؛ د انسانیت پر ضد لوی جرم دی

جګړه هغه مهال خپل تر ټولو ناوړه او دردناک شکل غوره کوي چې اور یې د بې‌ګناه خلکو تر کورونو ورسېږي. ماشومان، ښځې، سپین‌ږیري او بزګران د هېڅ جګړې لوری نه وي، خو ډېری وخت د جګړو تر ټولو ستر قربانیان همدوی وي. نړیوال بشري اصولو دعوه داران هم همدې حقیقت ته په کتو د ملکي وګړو خوندیتوب یو اساسي مسئولیت ګڼي او پر ټولو ښکېلو لورو ټینګار کوي چې د ولسي خلکو ژوند خوندي وساتي.

د وروستیو راپورونو له مخې، د پاکستان پوځي رژیم په پکتیا، پکتیکا او کونړ ولایتونو کې پر ملکي سیمو هوايي بریدونه کړي دي. د راپورونو پر بنسټ، په دغو بریدونو کې لسګونو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې او تر اوسه د ۲۹ ماشومانو د شهادت خبرونه خپاره شوي دي. تېره شپه د کونړ ولایت د مرورې ولسوالۍ د برولو کلي د یوه ملکي وګړي کور هم په نښه شو چې د همدې کورنۍ څلور غړي ټپیان شول او کور یې زیانمن شو. دا پېښې د ملکي وګړو د خوندیتوب په اړه جدي اندېښنې راولاړوي.

د دغو بریدونو تر ټولو دردوونکې برخه دا ده چې قربانیان یې هغه خلک دي چې له جګړې سره هېڅ تړاو نه لري. د ملکي وګړو وینه تویول هېڅ شرعي، سیاسي او پوځي توجیه نه لري او د انساني وجدان له نظره هم د منلو وړ نه ده.

د افغانستان اسلامي امارت تکرارا څو ځله څرګنده کړې چې د ستونزو د حل لپاره خبرو، متقابل احترام او سیاسي تفاهم ته لومړیتوب ورکوي. د ګاونډیو هېوادونو سره د متوازنو اړیکو ساتل او د اختلافاتو د حل لپاره ډیپلوماتیکې لارې تعقیبول د همدې سیاست برخه ده. له همدې امله پر ملکي سیمو بریدونه د تاوتریخوالي د کمېدو له هڅو سره هم په ټکر کې واقع کېږي.

د دغو بریدونو په غبرګون کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان شارژدافیر احضار کړ او د اعتراض رسمي لیک یې وسپاره. وزارت دغه بریدونه د نړیوالو بشري اصولو ښکاره نقض وباله او په کلکو ټکو یې وغندل. له بلې خوا، د افغانستان د سولې لپاره د امریکا پخواني ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم دغه بریدونه وغندل او یادونه یې وکړه چې د شخړو د حل لپاره وړاندې شوي وړاندیزونه مناسب ځواب نه دی ترلاسه کړی. دا څرګندونې ښیي چې موضوع یوازې دوه‌اړخیزه نه ده، بلکې نړیوال پام هم ورته اوښتی دی.

د سیمې ثبات د ټولو هېوادونو ګډه اړتیا ده. هر هغه اقدام چې د ولسي خلکو ژوند له خطر سره مخ کوي، د بې‌باورۍ فضا پراخوي د انتقام جذبه پاروي او د ستونزو د حل واټن اوږدوي. په مقابل کې، سیاسي تفاهم، ډیپلوماټیک تعامل او د نړیوالو اصولو رعایت کولی شي د ثبات او همکارۍ لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کړي.

د بې‌ګناه خلکو امنیت باید د هر ډول سیاسي او پوځي محاسبې څخه لوړ ارزښت ولري. د ملکي وګړو خوندیتوب اخلاقي، اسلامي او نړیوال مسئولیت دی. هر هغه لوری چې دې اصل ته درناوی وکړي، د سولې، ثبات او متقابل باور لپاره به اغېزمن ګام پورته کړي.

کاپیسا کې د «ګل زرد» دودیزه مشاعره جوړه شوه

کاپیسا کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت اړوند د ترنم ریاست له لوري د ګل زرد دودیزه مشاعره ترسره شوه، چې پکې ګڼ شمېر شاعرانو، ځوانانو او فرهنګي کسانو ګډون کړی وه.په دې تړاو جوړه شوې غونډه کې د یاد ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي کریم الله وثیق ویلي، د ګل زرد مشاعره د یاد ولایت یو له دودیزو مشاعرو څخه ده، هر کال پکې ګڼ شمېر خلک ګډون کوي.

نوموړي ویلي، د داسې پروګرامونو وړاندې کول د فرهنګي هویت پیاوړتیا ده.

سیمه ییزو مسئولینو دغه راز غونډه کې د شعر په ارزښت خبرې کړې او د شاعرانو رول یې خورا مهم بللی دی.مسئولینو له شاعرانو او فرهنګي څېرو غوښتي، چې د شعر محتوا ته په ښه ډول پاملرنه وکړي.

د مراسمو په پای کې شاعرانو خپل ادبي اثار ګډونوالو ته وړاندې کړل او د فرهنګ ژوندي ساتلو لپاره یې د دا ډول پروګرامونو جوړول یوه اړتیا وبلله.

د صنعت او معدن اونۍ ملي او نړیوال نندارتون د ۴۰۰ شرکتونو په ګډون په کابل کې پیلېږي

د کابل د نندارتونونو او نړیوال مرکز د پنځم ځل لپاره د صنعت او معدن اوونۍ او نړیوال نندارتون کوربتوب کوي. یاد نندارتون د سرطان په ۱۰ مه پیل کېږي چې ۷ ورځې به دوام وکړي. د نندارتون د غوره تر سره کېدلو، ارزښت او په کې د ګډونوالو د معلوماتو شریکولو اړوند د خبري کنفرانس په ترڅ کې د صنایعو او کانونو خونې مرستیال، محمد رفیع عظیمي، وویل: «په نندارتون کې ګډون د هېواد بېلا بېلو کانونو څخه ملاتړ په معنا دی، نو د ټولو څخه هیله کېږي، چې په خپل ګډون سره د پانګوالو، تولیداتو او صنعتکارانو ملاتړ وکړي.»د نوموړي په خبره: «په دې نندارتون کې تول د خپل هېواد صنعتي او معدني توکې ننداري ته وړاندې . . .

۳ مخ

د کتاب ارزونې کمېسیون غونډه ترسره شوه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معینیت اړوند د کتاب ارزونې کمېسیون نوبتي ناسته ترسره شوه.په دې ناسته کې د یو شمېر کتابونو په اړه پرېکړې شوې او هغو کتابونو ته چې له اسلامي او افغاني ارزښتونو سره سم لیکل شوي وو؛ د چاپ اجازه ورکړل شوې ده. همدارنګه د ۱۶ بېلابېلو عنوانونو درلودونکي ۱۲۱ ټوکه صادر او وارد شوي کتابونه ارزول شوي او ۲۰ ټوکه راجع شوي کتابونه د کمېسیون غړیو ته سپارل شوي، چې په راتلونکي . . .

۳ مخ

جوزجان کې څه باندې ۳۶۷ زره جریب ځرځایونه تثبیت شوي

د عدلیې وزارت وايي: د ځمکو د غصب د مخنیوي کمېسیون په جوزجان کې څه باندې ۳۶۷ زره او ۵۷۳ جریب ځرځایونه تثبیت کړي دي.

د یاد وزارت د خبرپاڼې له مخې، دغه عامه ځرځایونه د جوزجان په مرکز، خواجه دوکوه، خانقاه، قوشتیپه، اقچه، فیض‌آباد او درزآب ولسوالیو کې دي.

سرچینه زیاتوي، د یادو ځرځایونو له ډلې ۹۳.۷۴ سلنه چې څه باندې ۳۴۴ زره جریب کېږي، د ځرځایونو په حالت کې پاتې دي او ۲۳ زره جریب نورو طبیعي بڼه له لاسه ورکړې او د خلکو له لوري په للمي او اوبي کرنیزو ځمکو او استوګنیزو کورونو بدل شوي او یا نور تصرفات پکې شوي دي.

خبرپاڼه کې راغلي، د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شوو ځمکو د استرداد قانون د ۱۳مې مادې پر بنسټ، پر عامه ځرځایونو تېری او په کرنیزو ځمکو د هغو بدلول، په هغو کې د سرپناه (کور) جوړول او په مرعی . . .

۳ مخ

لوګر کې د نږدې ۲ میلیونه افغانیو په لګښت یوې دیني مدرسې ته ودانۍ جوړېږي

د لوګر د ازرې ولسوالۍ په منګل درې سیمه کې د انوارالعلوم په نامه یوې دیني مدرسې ته د نږدې دوه میلیونه افغانیو په لګښت د نوې ودانۍ د جوړېدو چارې پیل شوې دي.د لوګر د پوهنې ریاست ویاند شاه پور عرب باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې دغه ودانۍ د ازرې ولسوالۍ د پوهنې آمریت په همغږۍ د سیمې قومي مشرانو او عامو اوسېدونکو په مالي ملاتړ جوړېږي.

د نوموړي په وینا، په دې ودانۍ کې به ۶ درسي ټولګي، یوه اداري خونه، یو کتابتون، یو پخلنځی او د تشنابونو څلور غرفې جوړې شي او ټاکل شوې د جوړېدو چارې به یې په راتلونکو درېیو میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

نوموړي زیاته کړې، چې د سیمې یو شمېر اوسېدونکو د یادې مدرسې لپاره خپله یونیم جریب شخصي ځمکه هم د پوهنې ریاست ته وقف کړې ده.

د یادونې وړ ده، چې د انوار العلوم دیني مدرسه د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت تر چتر لاندې فعالیت کوي.

د ماهیپر برېښنا بند د لومړي توربین د تولید وړتیا ۲۶ مېګاواټو ته لوړېږي

د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس ملا عبدالحق همکار، د ماهیپر برېښنا تولید بند د لومړي توربین (جنراتور) رغونې پروژې د قراردادي شرکت له رئیس ګنای کوسه سره کتلي دي.

په دې کتنه کې د یادې پروژې د پرمختګ، تخنیکي چارو او اړوندو موضوعاتو په اړه خبرې شوې دي.

د افغانستان برېښنا شرکت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې کتنه کې د قراردادي شرکت رئیس د پروژې روانو چارو په اړه معلومات ورکړل او څرګنده یې کړه، چې شرکت یې چمتو دی د افغانستان برېښنا شرکت د تخنیکي ارزونې او رسمي تائید په صورت کې، د ماهیپر برېښنا بند د لومړي توربین د تولید ظرفیت له ۲۲ مېګاواټو څخه ۲۶ مېګاواټو ته لوړ کړي.

دغه راز د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس ویلي چې د توربین تولید ظرفیت . . .

۳ مخ

د ملي دفاع پیاوړتیا؛ د وخت او تدبیر اړتیا

عبدالباسط

د ملتونو تاریخ دا حقیقت په ځرګند ډول بیانوي چې خپلواکي په احساساتو نه ساتل کېږي او امنیت د لنډمهاله تدابیرو په مټ دوام نه پیدا کوي. هر هغه هېواد چې غواړي خپل سیاسي اختیار، ځمکنۍ بشپړتیا او د خلکو ارام ژوند خوندي وساتي، اړ دی چې د ملي دفاع موضوع د یوه دوامدار ملي مسئولیت په توګه تعقیب کړي. دا ډول ورتیا په یوه ورځ، یوه پېښه او یا څو کلونو کې بشپړېږي نه، بلکې د اوږدې مودې علمي هڅو، اقتصادي پیاوړتیا، منظمې روزنې، اغېزمن مدیریت او روښانه ستراتیژۍ له لارې وده کوي. همدا علت دی چې بریالي دولتونه د دفاع مسئله د بېړنیو غبرګونونو پر ځای د اوږدمهاله پلان له مخې تنظیموي.

اسلام هم د راتلونکې لپاره د چمتووالي پر ارزښت ټینګار کړی دی. الله تعالی فرمايي: ﴿وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ﴾ [الأنفال: ۶۰]؛ یعنې: «تر خپلې وسې هر ډول ځواک ورته چمتو کړئ.» د تفسیر علما لیکي چې دلته د ځواک مفهوم پراخ دی. پوځي چمتووالی، علم، تدبیر، اقتصادي امکانات، منظم تنظیم او هر هغه مشروع ظرفیت پکې راځي چې د هېواد د امنیت او ثبات د ساتنې توان لوړوي. له همدې امله د اسلامي فکر له مخې چمتووالی د جګړې غوښتنه نه ده، بلکې د امنیت د ساتنې او د خطرونو د مخنیوي لپاره مسئولانه تدبیر دی.

د رسول الله ﷺ ژوند هم د همدې اصل عملي بېلګه وړاندې کوي. د مدینې د اسلامي ټولنې د امنیت لپاره هر اقدام د مشورې، دقیقې ارزونې او مناسب پلان له مخې ترسره کېده. د خندق غزا د اسلامي تاریخ له مهمو درسونو څخه ده. د خندق کیندل هغه مهال یو نوی پوځي تدبیر و چې د مقابل لوري پرمختګ یې ورو کړ او د مدینې امنیت یې خوندي کړ. دا پېښه ښکاروي چې تدبیر، فکر او چمتووالی ډېر ځله هغه پایلې ورکوي چې یوازې احساساتي پرېکړې یې نه شي ترلاسه کولای.

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت دوره هم د دولتدارۍ او دفاعي تنظیم یوه روښانه تجربه ده. د اسلامي دولت د پراخېدو ترڅنګ یې اداري اصلاحات ترسره کړل، د ولایتونو چارې یې منظمې کړې، د بیت المال ساتنې ته یې ځانګړې پاملرنه وکړه او د سرحدونو د خوندي ساتلو لپاره یې دوامدار تدابیر ونیول. د دغو اصلاحاتو تر شا یو منظم فکر موجود و؛ ځکه د هېواد امنیت هغه وخت پیاوړی پاتې کېږي چې اداره، اقتصاد، قانون او عامه نظم یو له بل سره همغږي ولري.

د نړۍ معاصر تاریخ هم همدغه حقیقت ثابتوي. هېڅ ځواکمن دولت خپل اوسنی دفاعي ظرفیت په لنډ وخت کې نه دی ترلاسه کړی. د کلونو علمي څېړنې، تخنیکي نوښتونه، صنعتي پرمختګ، مالي ثبات او مسلکي روزنه هغه عوامل دي چې د دفاعي ورتیاوو د لوړولو لاره هواروي. هره تجربه دا پیغام لري چې دوامدار امنیت له دوامدار کار سره تړاو لري.

اقتصادي ځواک د ملي دفاع له مهمو اړتیاوو څخه دی. هغه هېواد چې پیاوړی اقتصاد ولري، د خپلو ملي پروګرامونو د تمویل پراخ امکانات هم پیدا کوي. د صنعت پراختیا، کورنۍ پانګونه، تولید، سوداګري او د بشري ځواک روزنه د امنیت له موضوع سره مستقیمه اړیکه لري. اقتصادي کمزوري د دولت پر ډېرو برخو اغېز کوي، حال دا چې اقتصادي پیاوړتیا د ثبات لپاره مناسب چاپېریال برابروي.

علم او ټکنالوژي د معاصرې نړۍ د ځواک مهم عوامل دي. نن ورځ سایبري امنیت، مخابراتي سیستمونه، مصنوعي ځیرکتیا، فضايي څارنه او دقیقې څېړنې د دولتونو د ورتیاوو مهمې برخې جوړوي. له همدې امله هغه ملتونه چې د ښوونې، لوړو زده کړو او څېړنیزو مرکزونو ملاتړ کوي، د راتلونکو اړتیاوو لپاره هم ښه چمتووالی نیسي.

بشري ځواک د هر هېواد تر ټولو ستره پانګه ده. روزل شوي متخصصین، انجنیران، ډاکټران، اقتصادپوهان، حقوقپوهان او تخنیکي کادرونه د هرې ملي تګلارې د بریا اساسي برخه جوړوي. د ځوان نسل علمي او مسلکي روزنه د راتلونکو لسیزو لپاره د هېواد ظرفیت لوړوي او د پرمختګ نوې دروازې پرانیزي.

اداري نظم او حساب ورکونه هم د ملي ورتیاوو د پیاوړتیا مهم عناصر دي. روڼ مدیریت، د قانون حاکمیت او د مسئولینو ځواب ویلو ته چمتووالی د خلکو باور زیاتوي او د دولت د پروګرامونو اغېزمنتوب لوړوي. هر څومره چې اداره منظمه وي، هماغومره د ملي امکاناتو سمه استفاده هم اسانه کېږي.

ملي یووالی هم د هر هېواد د ثبات مهم ځواک دی. ګډ هدف، متقابل باور او د ملي ګټو ساتنه د دې لامل کېږي چې ټولنه د ستونزو پر وړاندې په همغږۍ ودرېږي. هغه ملتونه چې خپل اختلافات د قانون او تفاهم له لارې حل کوي، د اوږدمهاله پرمختګ لپاره ډېر مناسب فرصتونه پیدا کوي.

افغانستان د خپل جغرافيايي موقعیت او تاریخي تجربو له امله تل د امنیتي ننګونو شاهد پاتې شوی دی.

همدې واقعیت دا اړتیا لا پیاوړې کړې چې د هېواد د ظرفیتونو لوړول او اوږدمهاله لید له مخې تعقیب شي. د اقتصاد وده، د علم پراختیا، د ادارو پیاوړتیا، د قانون درناوی او د بشري ځواک روزنه هغه برخې دي چې د راتلونکي ثبات لپاره ارزښتناک رول لري.

د ملي دفاع پیاوړتیا د یوه ملت د اوږدې ارادې، علمي ودې، اقتصادي ځواک، منظم مدیریت او پرله‌پسې هڅو ګډه پایله ده. تاریخ او اسلامي لارښوونې دواړه دا پیغام ورکوي چې دوامدار امنیت د صبر، تدبیر، علم او مسئولانه کار له لارې ترلاسه کېږي. هر هغه ملت چې نن د خپلو ظرفیتونو د لوړولو لپاره پانګونه کوي، سبا به د خپلو خلکو د امنیت، خپلواکۍ او ملي ثبات د خوندي ساتلو لپاره لا ډېر چمتو وي.

ټيټ مې مه بوله غور ځنګ را باندې مه کړه!

سلطان محمود سالمزی

پاکستاني کرايګر پوځي رژیم یو ځل بیا خپله څېره افغان مومن او مېړني ملت ته وښوده، چې زموږ په ګران او محبوب هېواد کې له تېرو ځلورو لسیزو ځرګندو او بر بندو لاسوهنو څخه لا هم لاس نه اخلي، په ډېره بې شرمۍ او سپين سترګۍ سره په افغانستان کې د زور، زر او تزویر له لارې او یا هم د ځینو پلورل شویو افرادو پر مټ د خپلو شومو او استعماري موخو لپاره خپلو مذبوحانه هلو ځلو ته دوام ورکوي. هغوی چې په خپل جنګي تاریخ کې هېڅ سوبه نلري او هره جګړه یې بایللې ده، چې یوازې یې د بنګلدېش سره د ازادۍ په جګړه له ۹۰۰۰۰ زرو د زیاتو ځواکونو پتلونونه واېستل شول او له شرموونکې ماتې سره مخامخ شول. له هغه چا سره چې تر اوسه یې پرې حاکمیت درلوده او له داسې یوه ملت سره چې د یوې پېړۍ په لړ کې درې سترې فرعوني امپراتورۍ یو په بل پسې راوپرځولې، په کوم جرات خپلو ړندو بمبارو ته دوام ور کړي؟ لا یې خپله بقا زموږ د ګران هېواد په نابودۍ پورې تړلې چې تېره ورځ یې یو ځل بیا په پکتیا، پکتيکا او کنړ ولايتونو کې د خپلو ړندو بمبارۍ په ترسره کولو زموږ یو شمېر بې ګناه ملکي وګړي ښځې او ماشومان په شهادت رسولو سره خپله منفوره څېره افغانانو ته ځرګنده کړه. د الله ج په مرسته به یې ډېر ژر انتقام هم واخیستل شي، شاید هغه وخت رارسېدلی وي چې د نړۍ د نورو استکباري او استعماري طاقتونو په څېر دوی هم د نابودۍ او تاريخ کندې ته وسپارل شي. لکه چې سید شمس الدین مجروح صیب ویلي:

ټيټ مې مه بوله
غورځنګ رابانديې مه کړه!
زه په دې افتادګۍ
کې لوی ګړنګ یم!

د نړۍ هغه زبر ځواکونه دلته په ګونډو شوي چې تاسې یې غلامان یاست. همدارنګه هغه چا چې په افغانانو یې د یرغل اراده کړې، له نابودۍ سره مخ شوي دي. موږ په مادي لحاظ شاید کمزوري یو؛ خو الحمدلله ملت مو د ایمان په سلاح مجهز دی، داسې جنګیالي لري چې جنت هم د ټوپک په میل کې ګوري او د قرباني داسې جذبه لري چې د نړۍ په تاریخ کې یې بېلګه نه لیدل کېږي. تاسې به هم ډېر ژر ناهیلي کړي او د نورو یرغلګرو په څېر به تاسې هم په خپلو کړنو او لاس وهنو پښېمانه شئ.

د یو وداں، سر لوړي او پر مختللي افغانستان په هیله!

افغان اعلانات

اعلان داوطلبی

ریاست پولی کلینیک مرکزی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی(١٣-قلم فلم اکسری) تحت ریفرنس نمبر (MOPH/CPC/NCB/1405/G002) اشتراک نموده و سافت شرطنامه مربوطه را در فلش دسک از مدیریت تدارکات ریاست پولی کلینیک مرکزی بدست آورده آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون عقود و مراحل اجرایوی کوتاه مدت وزارت صحت عامه طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر روز دو شنبه مورخ (١٤٠٥/٠٤/٢٩) به ریاست پولی کلینیک مرکزی واقع سینما پامیر ناحیه اول ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.

د دواطلبی خبرتیا

د مرکزی پولی کلینیک ریاست ټول په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوی، څو د (١٣ قلمو- اکسری فلمونه) پروژی داوطلبی په پروسه کی چی د (MOPH/CPC/NCB/1405/G002) شمیري لرونکی ده ګډون وکړي او د شرطنامی سافت کاپی د فلش دسک له لارې د تدارکاتو مدیریت څخه ترلاسه کړي، او خپل (آفرونه) د شرطنامی سره سم د عقود قانون او د عامی روغتیا وزارت د لنډ مهاله اجرایی مراحلو مطابق په سر ترلي ډول اعلان د نشر له نیټی څخه تر ١٠:٠٠ مخکی له غرمی د دو شنبه ورځی چی نیټه یی(١٤٠٥/٠٤/٢٩) ده د مرکزی پولی کلینیک د سینما پامیر لومړی ناحیه کی موقعیت لري وسپاری ناوخته رسیدلي او انترنتی آفرونه د منلو وړ نه دی .

د داوطلبیو خبرتیا

پروژې نوم: د ستري محکمې د مرکز ګرمی سیستم لپاره د تخنیکي اطاق او تیلو ذخیرې د نوې ودانۍ اعمار او رغونه

د ١.١.١ د ستري محکمې تدارکات پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې د ١۴٠۵ هـ ش مالي کال لپاره د ستري محکمې د مرکز ګرمۍ سیستم لپاره د تخنیکي اطاق او تیلو ذخیرې د نوې ودانۍ د اعمار او رغولو په داوطلبۍ کې ګډون وکړي، د شرطپاڼې نقل د مالي او اداري عمومي ریاست د تدارکاتو له آمریت څخه په فلش یا ډسک کې تر لاسه کړئ، خپل آفرونه په شرطپاڼه کې د ذکر شویو شرطونو او عقودو د قانون په رڼا کې په سربسته او ترلي ډول ددې خبرتیا د خپریدو له نیټې څخه تر ١۴٠۵/۴/٢٧ هـ ش نیټې تر ١٠:٣٠بجو پورې د کابل ښار د عامې روغتیا څلور لارې ته څېرمه د ستري محکمې د مالي او اداري عمومي ریاست اړوند د تدارکاتو آمریت ته وسپارئ، تر یادې نیټې وروسته او د انټرنټ له لارې را رسیدلي آفرونه د منلو وړ نه دي.

د آفرونو پرانیسته ١۴٠۵/۴/٢٧هـ ش نیټه له غرمې مخکې ١٠:٣٠ بجو په ستره محکمه کې تر سره کیږي.

نوټ:د آفرونو د پرانستې څخه تر مخ ناسته١۴٠۵/۴/٢٣ ه ش نیټه د سترې محکمې په تدارکاتو آمریت کې تر سره کیږي.

اطلاعیه لیلام

وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل در نظر دارد برای بار چهارم به تعداد ٢ پایه جنراتور ٧٠ کیلووات و ٢۵ کیلووات داغمه خویش را به تاریخ ١۴٠۵/۴/١۵ از طریق مزایده به لیلام بسپارد. شرکت ها، موسسات و اشخاصیکه علاقمند خرید آن باشند می توانند بعد از نشر اعلان الی تاریخ ١۴٠۵/۴/١۵ درخواست های خویش را به آمریت محاسبه اجناس ریاست مالی و اداری این وزارت واقع مکروریان سوم ، سرک عمومی میدان هوایی بین المللی کابل جوار ستره محکمه بسپارند، در تاریخ مذکور تشریف آورده و در مزایده اشتراک نمایند.

قابل تذکر است که ١۵ فیصد پول تضمین قبل از شروع داوطلبی در همان روز نقدا اخذ می گردد. ٣٠٧٧

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم احمد حامد فرزند محمد رستم یک عراده موتر پلیت ١٩۴٣۶-۴ ش کابل نوع تیوتا لندکروزر زرهی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای اکبر جان زاهد فرزند الف سید بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ٣٠٧۶

اطلاعیه

قبلا آمریت عمومی نظارت از موسسات مالی غیر بانکی جواز شماره ٢ شرکت صرافی و خدمات پولی شیر محمد و برادران به اسم محترم محمد مصطفی نماینده رسمی آن شرکت در دکان شماره ١۶١ منزل اول مارکیت برادران حیدری ولایت کابل صادر گردیده بود.

اکنون ، سهمداران شرکت طی درخواستی ارایه شده، میخواهند که فعالیت صرافی وخدمات پولی نماینده گی فوق الذکر را ترک پیشه نماید نمایندگی کابل شیر محمد و برادران واقع مارکیت برادران حیدری گردیده است. ٣٠٨۶

اطلاعیه

اسامی محترم احمد جمشید فرزند محمد قربان مالک (اکسری کامیار) که قبلا ذریعه مکتوب شماره ۶١٧٧۴٢ مورخ ١٣٩٠/٢/٢٠ رسما از طریق این ریاست در مربوطات ولایت بلخ افتتاح گردیده بود ، اکنون طی درخواستی جداگانه به ریاست محترم تنظیم و هماهنگی سکتور خصوصی خواهان تغیر نام اکسری خویش به (اکسری جمشید یما) گردیده که ریاست محترم احکام لازم ارشاد فرموده اند.

اشخاص ، موسسات و دوایر امارتی که در مورد اکسری مذکور ادعا داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به وزارت صحت عامه آمریت عرضه خدمات بخش صدور جواز خصوصی عامه مراجعه نموده در غیر آن ادعای شان باطل می باشد. ٣٠٨٧

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه پنجم بالا قلعه افشار به اسم محمد عسکر فرزند غلام عباس مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ٣٠٧٢

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه کارت مجوز حمل سلاح دارای شماره ٣٩۶١ نوع میکاروف مربوط محترم مسیح الله فرزند شاه ولی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند. ٣٠٨٢

اطلاعیه لیلام

قرار است وزارت امور خارجه به تعداد ٢١٨۴ دو هزار و یک صدو هشتاد و چهار شماره اموال داغمه و مازاد مختلف النوع خویش را به تاریخ ١۴٠۵/۴/٢٢ با حضور داشت هیئت موظف به پروسه داوطلبی گذاشته و به فروش رساند.

اسم پروژه	تاریخ داوطلبی	زمان داوطلبی	مکان	تضمین پیش پرداخت
لیلام و واگذاری اجناس داغمه و مازاد	١۴٠۵/۴/٢٢	١٠:٠٠ قبل از ظهر	وزارت امور خاجه- پارکینگ وسایط شماره ارتباط : ٠٢٠٢١٠٣۶۶٧	١۵٪ فیصد قبل از شروع داوطلبی اخذ می گردد

دعوت به داوطلبی

عنوان: پروژه اعمار خانه ملا امام مسجد شریف شهرک شیخ زاهد

شماره تشخیصیه داوطلبی : MUDH/1405/NCB/W-1837

وزارت شهر سازی و مسکن در نظر دارد تا پروژه اعمار خانه ملا امام مسجد شریف شهرک شیخ زاهد را به داوطلبی بسپارد.

بنآ از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت به عمل می آید تا جهت اخذ شرطنامه به ریاست تدارکات این وزارت تشریف آورده و سافت شرطنامه را اخذ نماید همچنان داوطلبان می توانند به شکل آنلاین از سیستم تدارکات الکترونیکی ریاست تدارکات ملی و ویب سایت وزارت شهرسازی و مسکن دریافت نموده و بعد از خانه پری شرطنامه مطابق شرایط مندرج آن طور سربسته به تاریخ ١٨ سرطان ١٤٠٥ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر به ریاست تدارکات وزارت شهرسازی و مسکن واقع در مکروریان سوم، مقابل مطبعه آزادی ناحیه نهم شهر کابل، افغانستان ارایه نماید. آفر های نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

نوت: جلسه آفرگشایی به ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر مورخ ١٨ سرطان ١٤٠٥ در طعام خانه این اداره عقب مسجد شریف صحن وزارت شهرسازی و مسکن تدویر میگردد.

شماره		معیارات ارزیابی
1	حجم معاملات	حجم معاملات دوسال داوطلب در خلال پنج سال اخیر **قابل تطبیق نیست** .
2	تجربه مشابه	تطبیق و اکمال یک قرارداد مشابه در ده سال اخیر **قابل تطبیق نیست** و یا تطبیق و اکمال دو قرارداد مشابه به ارزش **قابل تطبیق نیست**.
3	سرمایه نقدی	660,000 شش صدو شصت هزار افغانی می باشد.
4	تضمین آفر	مبلغ 68،000 شصت و هشت هزار افغانی می باشد.

نوت: (١) : پول نقد به عنوان تضمین آفر پذیرفته نمیشود.

(٢) : شرطنامه بصورت سافت به داوطلبان توزیع میگردد.

د پاکستان پوځي . . .

بشپړ تخریب شوي.

د یادونې وړ ده، چې د پاکستان پوځي رژیم متجاوز پوځ تـر دې وړاندې هم عام افغانان په نښه کړي وو، چې له کبله یې سلګونه هېوادوال شهیدان او ټپیان شوي دي.

ملګري ملتونه . . .

ټینګار کړی دی.

د کورنیو چارو وزارت خبرپاڼه کې راغلي، چې له نشه‌يي توکو سره د مبارزې معین شیخ عبدالرحمن منیر د ملګرو ملتونو له نشه‌يي توکو او جرمونو سره د مبارزې ادارې (UNODC) د دفتر له رئیس پولک اوک سیري سره وکتل.

سرچینې لیکلي، چې پولک اوک سیري د دې لیدنې موخه د ملګرو ملتونو د راتلونکي نړیوال راپور په اړه د نظرونو تبادله یاده کړه او ویې ویل، په دغه راپور کې به د اسلامي امارت، په ځانګړې توګه د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت لاسته‌راوړنې او د مخنیوي او مبارزې هڅې په عادلانه او له واقعیت سره سمې منعکسې شي.

شیخ عبدالرحمن منیر هم ویلي: «هیله لرو چې د ملګرو ملتونو په نړۍوال راپور کې د نشه‌يي توکو د مخنیوي او له دې ناوړې پدیدې سره د مبارزې برخه کې د افغانستان لاسته‌راوړنې او فعالیتونه په رښتینې، صادقانه او عادلانه توګه منعکس شي.»

د کورنیو چارو وزارت لیکلي چې منیر د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د نشه‌يي توکو د مخنیوي او پر وړاندې د مبارزې برخه کې د امنیتي ځواکونو لاسته راوړنو ته هم اشاره وکړه او ویې ویل: د هېواد پر لویو لارو د نشه‌يي توکو د قاچاق د مخنیوي برخه کې د پام وړ بریاوې ترلاسه شوې دي.

د خبرپاڼې له مخې، د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې معین په پای کې له پولک اوک سیري وغوښتل، چې د کوکنارو او نورو منع شویو کښتونو پر ځای د بزګرانو لپاره د بدیل معیشت برابرولو برخه کې ځانګړې پاملرنه او عملي همکاري وکړي.

د صنعت او معدن . . .

کېږي چې د ټولو هېوادوالو ملاتړ ته اړتیا لري، تـر څو هېواد تولیدات زیات شـي او د هېواد اقتصاد په غښتلتیا کې اړین رول تر سره کړي.»

په ورته مهال د سوداګرۍ خونې پلاوي, محمد سید صدیق، وویل: «نندارتونونو جوړېدل د هېواد د کورنیو تولیداتو او پانګوالو ملاتړ په معنا دی او له دې لارې هېوادوال د خپلو کورنیو تولیداتو څخه خبرېږي. د زده کوونکو، ښوونکو، سوداګرو، پانګوالو او نورو هېوادوال څخه هیله کېږي چې په دې ننداړتون کې ګډون وکړي او دوی ته دا معلومه شـي چې هېواد کې دننه تر ډېره کار شوی دی، پرمختګ رامنځته شوی او اقتصادي ځان بسیاینې ته نږدې یو.»

بل لور ته د کانونو او صنایعو خونې د عامل پلاوي رئیس، محمد اسماعیل خان، وویل: «په دې ننداړتون کې د هېواد ټول کورني تولیدات ننداړې ته وړاندې کېږي. په کې ۳۶۵ غرفې دي، د نورو ننداړتونونو په پرتله به دا ځل توپیر ولري او ټول صنعتکاران، پانګوالو او متشبثینو په کې ګډون کوي.»

دې سره هممهاله د صنایعو او کانونو خونې مرستیال، خان محمد خان، وویل: «مونږ ټول د هېواد د صنعت ودې او ځان بسیاینې پر وړاندې ګډه مسئولیت لرو. دا ځل د صنعت او معدن اونۍ ننداړتون به د هېواد د اقتصادي ودې او صنعتي پرمختګ لامل شي. مونږ هېواد کې پراخ پانګونې فرصتونه لرو چې په بېلا بېلو سکټورونو کې پانګوالو ته زمینه برابره ده، نو د اړیکو پراختیا او نوي سوداګریزو همکاریو رامنځته کېدلو لپاره ستر فرصت دی.»

د نوموړي په وینا: «د صنعت او معدن اونۍ ننداړتون د هېواد تولیداتو، بازار موندنې او خلکو باور ترلاسه کولو په برخه کې اړین ګام دی. هر څومره چې تولیدات ښه وپېژندل شي، ور سره د پلور او پیر بازارونه ښه کېږي. دا ځل په ننداړتون کې د هېواد په کچه نږدې ۴٠٠ شرکتونه ګډون کوي چې د تېر ځل په پرتله یې څلور برابره زیات شوي دي.»

د نوموړي په خبره: «مونږ ته په کار ده چې صنعتکارانو ملاتړ وکړو او د هېواد دننه د تولیداتو ظرفیتونه لوړ کړو، چې د اقتصادي ودې، نوښت او پرمختګ په ډګر کې بریالي شو.»

همداشان د غونډې په جریان کې د اوسپنې ویلي کولو د ټولنې رئیس، عبدالنصیر رښتیا، وویل: «د هېواد د سوداګرو، پانګوالو او صنعتکارانو ملاتړ په موخه باید له دې ننداړتون څخه په ګډه لیدنه وکړو. د پانګونې، تولیداتو زیاتوالي او سوداګرۍ په مټ د هېواد اقتصاد رغولی شو، نو په کار ده چې په دې برخه کې ټول خپل مسئولیت تر سره کړو.»

د قالینو د ټولنې په استازولۍ، قربان علي جمشید زاده، وویل: «په دې ننداړتون کې د هېوادوالو په لاس جوړ شوو قالینو ګډون پراخ دی او هیله کېږي چې ګډونوال یې په بشپړه توګه ملاتړ وکړي. قالینې د هېواد په کچه پراخ تولیدات لري، چې ورته په کور دننه او بهر کې بازار ته اړتیا لري تر څو د خپل صادارات زیات کړو او د هېواد اقتصاد ور سره ښه شي.» **زیارمل هوتک**

جوزجان کې . . .

ځمکو کې هر ډول نور تصرفات منع دي.

عدلیې وزارت لیکلي، د مرعی د سروې او تشخیص پلاوی چې د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون له خوا توظیف شوی، د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د څرځایونو د ځمکو د بررسۍ په حال کې دی او د بررسۍ او تثبیت بهیر په پای ته رسېدو سره، یاد څرځایونه د ځمکو په بانک کې ثبتېږي.

د ماهیپر برېښنا . . .

لوړول یوه مهمه تخنیکي موضوع ده او په دې برخه کې به د ټولو تخنیکي اړخونو له هر اړخیزې ارزونې، دقیقې سنجونې او د اړوندو تخنیکي مسئولینو له تائید او موافقې وروسته لازم تصمیم ونیول شي.

د قراردادي شرکت رئیس هم د برېښنا نورو کوچنیو تولیدي بندونو په برخه کې پر پانګونې لېوالتیا ښودلې ده.

د کتاب ارزونې . . .

ناسته کې یې راپور وړاندې کړي.

د ناستې په پای کې، د صادر شویو اخبارو کلکسیونونه او ځینې دفتري اسناد ارزول شوي او د نظرونو له څرګندولو وروسته یې په اړه لازمې پرېکړې شوې دي.

د پاکستان بریدونو . . .

خوله پاتې نه شي او د مخنیوي لپاره لازمې هڅې وکړي.

هرات مېشتي وروسته له هغې د افغان ملکي وګړو د ملاتړ په موخه راټول کړل شول چې پاکستاني پوځي رژیم تېره شپه بیا ځلې په قصدي ډول کنړ، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې شاوخوا ۲۰۰ ملکي وګړي په نښه کړي چې ډېره برخه یې ښځې او ماشومان دي.

میدان وردګو . . .

د یادونې وړ ده، چې تر دې وړاندې هم د میدان وردګو ولایت په دایمیرداد ولسوالۍ کې د ۶۳.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳٠ بستریز عمومي روغتون د جوړېدو چارې پیل شوې وې.

هېواد کې . . .

پوښښ لاندې راغلې ده: «هېواد کې شاوخوا ۲ میلیونه هکتاره ځمکه د ځنګلونو پوښښ لاندې ده، چې دا د هېواد څه باندې ۲.۸ سلنه خاوره شکیلوي.»د ښاغلي حاتمي په وینا: «د ځینو ټولنو لخوا، د یاد وزارت په چوکاټ کې یوه زر کسیزه قطعه جوړه شوې، چې د ځنګلو حفاظت او له غیرقانوني پرې کولو مخنیوی به کوي.» نوموړی همدارنګه د نیالیکیو کېنولو په اړه وایي: «په څو وروستیو کلونو کې، د هېواد د ښېرازۍ او ځنګل پوښلو پراختیا په خاطر ۱۲٠ میلیونه نیالګي کېنول شوي دي، چې له دې یې یوازې د سږکال په جریان کې، د ملي کمپاین له لارې شاوخوا ۱۸.۶ میلیونه نیالګي کرل شوي دي، چې تر ډېره یې د ځنګلو برخه جوړوي.»د چاپېریال ساتنې یو تن کارپوه، اسحاق وکیلي، د حکومت یادې کړنې ستایي؛ خو هدف ته د رسېدو لپاره یې کافي نه ګڼي او وایي: که څه هم د خلکو د درک کچه لوړه شوې؛ خو بیا هم دوه لویې ستونزې چې یو د خلکو فقر دی، چې د سون توکو لپاره په ځانګړې توګه ژمي کې، ځنګلونه قطعه کوي؛ بل د مافیایي کړیو کړنې دي، چې باید مخنیوی یې وشي.ښاغلی وکیلي وایي، چې حکومت باید د خلکو فقر په کارموندنې سره له منځه یوسي او د سون توکي دې ارزانه کړي.د یادونې وړ ده، چې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی له لورې، د یوه فرمان په ترڅ کې، د ځنګلونو پرې کولو صلاحیت یوازې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته ورکړی دی.

د کورنیوچارو وزارت ۱۲سوه کسیزه قطعه یې د ځنګلو ساتنې او غیرقانوني پرېکولو مخنیوي ته ځانګړې کړې ده. **تاج محمد بهار**

لوګر کې د سلام . . .

ګام وباله او د مخابراتي خدمتونو د لا پراختیا غوښتنه یې وکړه.

د یادونې وړ ده، چې د تېر یوه کال په ترڅ کې د لوګر په هغو سیمو کې، چې له مخابراتي خدمتونو بې برخې وې، شاوخوا ۴٠ مخابراتي سایټونه فعال شوي دي.

غزه؛ د صهیونستي . . .

دلې د تجهیزاتو کمښت او د ځینو سیمو د نه لاسرسي له امله نه دي توانېدلي چې ټولو اغېزمنو سیمو ته ورسېږي او د پاتې کسانو د ژغورنې یا د هغوی د جسدونو د را ایستلو چارې بشپړې کړي.

د سختې ګرمۍ . . .

شوي، ښوونځي ترل شوي او د برېښنا شبکې له سخت فشار سره مخ دي.

بلخوا، د فرانسې د عامې روغتیا وزارت هم اعلان کړی، چې د تېرې اوونۍ د چهارشنبې ورځې راهیسې په دغه هېواد کې نږدې زر داسې مړینې ثبت شوې دي چې د معمول له اټکل شوې شمېرې څخه زیاتې دي.

د یادونې وړ ده چې د یکشنبې په ورځ د اروپا په ځینو سیمو کې د هوا تودوخه تر ۴٠ سانتي ګرادو پورې رسېدلې وه، چې له امله یې روغتیایي او چاپېریالي اندېښنې زیاتې شوې دي.

ایران او امریکا . . .

لومړی خپور کړی و، د یوه لوړپوړي امریکایي چارواکي له قوله راپور ورکړی، چې تاکل شوې خبرې به نن د سې‌شنبې په ورځ د قطر په کوربه‌توب ببرته پیل شي.

د خبرو بیا پیل په داسې حال کې کېږي، چې په وروستیو ورځو کې د دواړو لورو ترمنځ متقابل بریدونه شوي وو. دغه کړکېچ د پنجشنبې په ورځ هغه مهال پیل شو، کله چې د ایران یوه توغندي د هرمز تنګي په سیمه کې یوه بار وړونکې بېړۍ په نښه کړه. له دې وروسته تهران او واشنګټن یو بل د جون د ۱۷مې نېټې د لنډمهالي اوربند په ماتولو ملامت کړل. بلخوا، ایران د یکشنبې په سهار په کویټ او بحرین کې د امریکا پر پوځي اډو د توغندیو او بې‌پیلوټه الوتکو بریدونه ترسره کړل. دغه بریدونه د امریکا د ولسمشر ټرمپ له خبرداري وروسته وشول. ټرمپ ویلي وو، که د ایران اسلامي جمهوریت د جګړې د پای ته رسېدو هوکړې ته ژمن پاتې نه شي، نو ښایي «پوځي اقدام» وشي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئيس: انجنيرعُزير بريالی
آمر او مسئول مدير: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډيزاين مسئول: محمديونس مايار
ويبپاڼې مسئول: ګل ولي افغانيار
چاپ پته: آزادي مطبعه، امارتي شرکت
پته: اتمه ناحيه د حضوري چمن ختيځ-کابل

بريښنايي بڼه | تويټر
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بيعه

يو ډالر	٦٥.١٥ اف
يو يورو	٧٤.١٠ اف
يو پونډ	٨٥.٢٠ اف
يو درهم	١٧.٧٤ اف
زر ريال	٠٣٩.٠٣٨ اف
زر کلداري	٢٢٥.٢٢٤ اف
زر کلداري	٧٥١.٧٤١ اف

د هوا حالات

	کابل	هرات	مزار شريف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی	
٠٤:٤٠	٣٧°C	٣٣°C	٣٦°C	٤٤°C	٤٧°C	٤٤°C	٣٤°C	٠٧:٠٨

بهرنيو چارو وزارت په سعودي عربستان کې د الوتکې د غورځېدو پېښې له قربانيانو سره خواخوږي څرګنده کړه

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت په سعودي عربستان کې د يوې الوتکې د غورځېدو له امله د رامنځته شوې مرګونې پېښې په تړاو د سعودي عربستان له حکومت، ولس او د قربانيانو له کورنيو سره خپله ژوره خواخوږي او همدردي څرګنده کړې ده.د بهرنيو چارو وزارت په خپره کړې اعلاميه کې ويلي، چې د يادې پېښې د قربانيانو کورنيو سره ځان شريک ګڼي او د هغوی د غمرازۍ ترڅنګ، ټپيانو ته د بشپړې روغتيا هيله لري.د نړيوالو رسنيو د راپورونو له مخې، دغه الوتکه د سعودي عربستان په ختيځه سيمه کې د سعودي د ملي نفتو شرکت (ارامکو) اړوند وه چې د غورځېدو له امله يې لږ تر لږه ۱۴ کسان مړه شوي دي.

د سعودي دولتي رسنيو د معلوماتو له مخې، د پېښې رامنځته کېدو اصلي لامل تر اوسه نه دی روښانه شوی؛ خو اړوندو ادارو د موضوع د څېړلو او د پېښې د څرنګوالي د معلومولو لپاره رسمي پلټنې پيل کړې دي.

ميدان وردګو کې د نږدې ۵۰ ميليون افغانيو په ارزښت ۳۰ بستريز روغتون جوړېږي

د ميدان وردګو د عامې روغتيا رياست مسئولينو ويلي چې د دغه ولايت په جغتو ولسوالۍ کې د ۴۹ ميليونه افغانيو په لګښت د ۳۰ بستريز روغتون د جوړېدو چارې پيل شوې.

په ياده موخه جوړه شوې غونډه کې د عامې روغتيا وزير مولوي نور جلال جلالي ويلي چې ياد روغتون د هغو ۳۱۸ روغتيايي مرکزونو له ډلې څخه دی چې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د لارښوونې له مخې په ټولو هغه لرې پرتو سيمو کې روغتيايي مرکزونه جوړېږي، چې اوسېدونکي يې روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی نه لري.

نوموړي زياته کړه، د جغتو ولسوالۍ اوسېدونکي به د دې پروژې له بشپړېدو وروسته معياري روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی ومومي.

په ورته مهال د ياد ولايت د عامې روغتيا رئيس حافظ سعيدالرحمن قادري باختر اطلاعاتي اژانس ته ويلي، چې ياد ۳۰ بستريز روغتون به پر پنځه جريبه ځمکه د ۱۸ مياشتو په موده کې جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

د نوموړي په وينا، په دغه روغتون کې به د عمومي داخلې، جراحۍ، ماشومانو، نسايي او ولادي څانګو په ګډون بېلابېل روغتيايي خدمتونه وړاندې کېږي . . .

۳ مخ

د پاکستان بريدونو ته د هرات مېشتو غبرګون؛ د ملکيانو په نښه کول بشري جنايت دی

پر افغان خاوره د پاکستان پوځي رژيم وروستيو بريدونو په غبرګون کې شمېر هرات مېشتي ولسونه واټونو ته راوتلي دي.هغوی د پاکستان پوځي رژيم دا ډول اقدامات د بشري اصولو او نړيوالو قوانينو خلاف عمل بللی دی.

هرات مېشتو د افغان ملکي وګړو وژنه غندلې او له اسلامي امارت يې غوښتي، چې په وړاندې يې پرېکنده اقدام وکړي.

هغوی ويلي، چې د افغانانو پر کورونو بمبارۍ او د ملکي وګړو په نښه کېدل يو نه منونکی عمل دی او په هېڅ ډول د توجيه وړ نه دی.د هرات ښاريانو همدارنګه له نړيوالو بنسټونو او د بشري حقونو له ادارو غوښتي، چې د افغان خاورې د نقض په اړه پټه . . .

۳ مخ

کندهار کې به سږ کال د غنمو له فصل ۳۶۹ زره ټنه حاصلات راټول شي

د کندهار ولايت دامان ولسوالي هغه ځای دی چې په کې د غنمو پراخ کښتونه شته او د غنمو حاصلات يې په ټول هېواد کې ځانګړې شهرت لري.د دې ځای د غنمو کروندګر وايي: سږکال د زياتو بارانونو او زراعتي امراضو د کمښت له امله په حاصلاتو کې د نورو کلونو په پرتله د پام وړ زياتوالی راغلی.په ورته مهال، د کندهار کرنې رياست مسئولين وايي، سږکال د دې ولايت په بېلابېلو ولسواليو کې پر څه باندې ۹۸زره هکتاره ځمکو غنم کرل شوي ، چې په وينا يې، کروندګر به ترې ۳۶۹ زره ټنه حاصلات ترلاسه کړي.د دوی په خبره، بريالی شوي، چې په روان کال کې له کروندګرو سره د غنمو د اصلاح شوي تخم، کېمياوي سرې او نورو زراعتي امکاناتو مرستې ترسره کړي، چې په خبره يې راتلونکی کال به د غنمو حاصلات نور هم زيات شي.د کندهار کرنې او مالدارۍ رياست وياند محمد حنيف حقمل وايي: « سږ کال په کندهار کې په ۹۸ زره ۳۸۲ هکتاره ځمکو غنم لرو . له دغو ځمکو به د اټکل له مخې ۳۶۹ زره ټنه حاصلات ترلاسه شي. »په کندهار کې د غنمو بېلابېل ډولونه يا (ورايټۍ) کرل کېږي چې مشهور يې داماني، کابلي، مقاوم او نور دي، چې ښه حاصلات ورکوي او کيفيت يې هم ښه دی.

هلمند کې د څه باندې ۲۰ ټنه غيرقانوني توکو د قاچاق مخه ونيول شوه

د هلمند د فرعي ګمرکاتو رياست ګرځنده ټيمونو د تېرې يوې اوونۍ په ترڅ کې د مرکز لښکرګاه په ګډون د ګرمسېر او بهرامچې ولسواليو په اړوندو سيمو کې د ۲۰ زره او ۲۶۶ کيلوګرامه خوراکي او غيرخوراکي توکو د قاچاق مخه نيولې ده.د هلمند د فرعي ګمرکاتو رئيس حاجي حقمل باختر اطلاعاتي

اژانس ته ويلي، قاچاق وړونکو غوښتل دغه توکي د ۱۱ باروړونکو موټرو په وسيله په غيرقانوني ډول هلمند ته را وارد کړي، خو د ګمرکي ګرځنده ټيمونو له لوري کشف او ضبط شول.نوموړي زياته کړه، چې د يادې قضيې په تړاو ۱۳ تنه هم نيول شوي او له لومړنيو پلټنو وروسته د قانوني اجرااتو لپاره اړوندو ادارو ته سپارل شوي دي.د مسوولينو په خبره، د قاچاق د مخنيوي په موخه د ګرځنده ټيمونو فعاليتونه دوام لري او د غيرقانوني توکو د لېږد او را لېږد پر وړاندې جدي مبارزه روانه ده.د يادونې وړ ده، چې تر دې وړاندې هم د هلمند د فرعي ګمرکاتو رياست د ګرځنده ټيمونو له لوري ګڼ شمېر قاچاقي توکي کشف او ضبط شوي او يو شمېر کسان د غيرقانوني فعاليتونو په تور نيول شوي

هېواد کې د ځنګلونو د ساتنې او پراختيا په موخه زر کسيزه امنيتي قطعه جوړه شوې

د معلوماتو په اساس هېواد کې د شاوخوا ۲ ميليونه هکتاره ځمکې، پر ځنګلونو د پوښلو پلان موجود دی، چې د افغانستان د ځمکې ۲.۸ سلنې څخه زياته ده. مسئولين وايي، چې د ځنګلو د ساتنې په خاطر، د ځينو ځنګل اړوند ټولنو له لوري د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په چوکاټ کې زر نفري قطعه جوړه شوې ده، چې د ځنګلو له پرې کولو مخنيوی او ساتنه به يې کوي. بلخوا د چاپېريال ساتنې کارپوهان وايي، چې حکومت دې د قطعو تر څنګ د خلکو فقر او مافيايي کړيو مخنيوی وکړي، تر څو ځنګلونه لا په امن کې پاتې شي.

د ياد وزارت وياند، مولوي شېرمحمد حاتمي، هېواد ورځپاڼې ته ويلي دي، چې د اسلامي امارت له حاکمېدو راهيسې په ډېره اغېزمنه توګه د ځنګلونو د قاچاق مخنيوی شوی دی او په اوس وخت کې له ټاکل شوي هدف څخه هم زياته برخه د ځنګلونو . . .

۳ مخ

لوګر کې د سلام مخابراتي شبکې سايټ فعال شو

د لوګر د خروار ولسوالۍ اړوند د طاوس خېلو او هرګنې کليو ترمنځ د سلام مخابراتي شبکې نوی سايټ فعال او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

د ياد ولايت د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ رئيس مولوي مطيع الله سعيد وايي، چې دغه سايټ په عصري او پرمختللو وسايلو سمبال دی او په فعالېدو سره به يې د خروار ولسوالۍ زرګونه اوسېدونکي له مخابراتي او انټرنېټي خدمتونو څخه برخمن شي.

د خروار ولسوال مولوي محمد ايوب خادم د ياد سايټ فعالېدل د سيمې خلکو لپاره يو مهم . . .

۳ مخ

بهرني لنډ خبرونه

غزه؛ د صهيونستي رژيم په تازه بريدونو کې درې فلسطينيان شهيدان شوي

د غزې د روغتيا وزارت اعلان کړی، چې په ۲۴ ساعتونو کې د صهيونستي رژيم د پرله‌پسې بريدونو له امله درې فلسطينيان شهيدان او ۴۳ نور ټپيان شوي دي. د ياد وزارت په وينا، ټپيان روغتيايي مرکزونو ته لېږدول شوي او د ځينو روغتيايي وضعيت نازک ښودل شوی دی.

د الجزيرې د راپور له مخې، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر مياشتې له اوربند راهيسې په غزه کې د ثبت شويو شهيدانو شمېر يو زر او ۴۱ تنو ته او د ټپيانو شمېر ۳ زره او ۳۷۲ کسانو ته رسېدلی دی، چې دا د سيمې د بشري وضعيت د لا خرابېدو څرګندونه کوي.

د غزې روغتيايي چارواکي وايي، چې د جګړې له امله لا هم ګڼ شمېر کورونه، استوګنيزې سيمې او عامه تاسيسات ويجاړ شوي. د راپورونو له مخې، د نړېدلو ودانيو له کنډوالو څخه تر اوسه د ۷۸۶ کسانو جسدونه ايستل شوي؛ خو لا هم يو شمېر قربانيان د ويجاړو شويو ودانيو تر کنډوالو لاندې بند پاتې دي. سرچينې زياتوي، چې د ملکي دفاع او ژغورنې . . .

۳ مخ

د روغتيا نړيوال سازمان:

د سختې ګرمۍ له امله په اروپا کې تر ۱۳۰۰ زيات کسان مړه شوي

د روغتيا نړيوال سازمان اعلان کړی، چې د روان کال د جون له ۲۱مې نېټې راهيسې په اروپا کې د سختې ګرمۍ د څپې له پيل سره تر ۱۳۰۰ زيات کسان خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

د روغتيا نړيوال سازمان مشر، تدروس ادهانوم ګبريسوس ويلي، چې دا مهال شاوخوا ۱۵۰ ميليونه کسان د سختې ګرمۍ تر اغېزو لاندې ژوند کوي.

نوموړي خبرداری ورکړی او ويلي يې دي: «اروپا د نړۍ هغه وچه ده، چې تر ټولو په چټکۍ سره تودېږي او د نړۍ د اوسط کچې په پرتله دوه برابره ګرمېږي.»

د ده په وينا: اوس مهال په ټوله اروپا کې ميليونونه خلک د سختې ګرمۍ له څپې سره مخ دي، سلګونه کسان مړه . . .

۳ مخ

ايران او امريکا د بريدونو پر درولو او د خبرو پر بيا پيل هوکړې ته رسېدلي

ايران او امريکا د فارس خليج په سيمه کې د نښتو او بريدونو پر درولو او د هرمز تنګي په اړه د شته اختلافاتو د حل لپاره د خبرو پر بيا پيل هوکړه کړې ده.

د رويټرز خبري اژانس د دوشنبې په ورځ د يوه امريکايي چارواکي له قوله راپور ورکړی، چې دغه نوې هوکړه د سولې د توافق د دوام او ساتنې لپاره هيلې زياتوي.

ياد امريکايي چارواکي ويلي: «د تفاهم‌ليک د ټولو برخو په اړه تخنيکي خبرې به دوام ولري. دواړو لورو هوکړه کړې، چې له تاوتريخوالي د لا زياتېدو مخنيوی وکړي او بېړۍ به وکولای شي د هرمز تنګي له لارې په ازاده توګه تګ راتګ وکړي.»

د آکسيوس خبري وېبپاڼې، چې د نښتو د درولو خبر يې . . .

۳ مخ